DAILY
اراده
داخلی نشراتی مرکزهلمند خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۱۴۶
شماره مسلسل ۱۰۱۳
پنج شنبه ۲۵ جوزا ۱۳۸۵ هـ.ش
۱۸ جمادی الاول ۱۴۲۷ هـ ق
15 June, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

انورالحق احدی:

د تورخم ـ جلال اباد په لویه لاره غبرګ سرک غواړو

د پاکستان او افغانستان د مرستې غونډې د اقتصادی کمیسیون دوه ورځنی غونډه اسلام آباد کې په داسې حال کې پیل شوې ده چې د افغان پلاوي مشر ډاکټر انورالحق احدي په خپله وینا کې وویل چې د تورخم ـ جلال آباد ترمینځ د یو نوي متوازي سړک د جوړولو لپاره له پاکستان څخه د مالي مرستې غوښتنه وکړه.

د جون په ۱۴ نېټه پیل شوې غونډې ته د مالیې وزیر ډاکټر انورالحق احدي په خپله وینا کې وویل چې د تورخم ـ جلال آباد ترمینځ په لوی سړک د ګاډو ټګ راتګ ډیر زیات شوی دی نو ځکه افغانستان غبرګ سرکونه غواړي. ۴مخ

سرمقاله

وایی چې په زور کلي نه کیږي!

په هیواد کې د مخدره موادو دکښت اوقاچاق دمخنیوی په برخه کې دنړیوالو پام زمونږ هیواد ته اوښتی دطالبانو او القاعده دخطر په پرتله د مخدره موادو کاروبار په هیواد کې دثبات په برخه کې ستر ګوابښ بلل شوی دی.

له دې املې چې دمخدره موادوقاچاق زمونږ دهیواد حیثیت او پرستیژ ته په نړیوال ډګر کې زیان رسولی دولسمشر د فرمان پر بنسټ په ټول هیواد کې د مخدره موادو کښت اوقاچاق منع په داسې وخت او شرائطو کې وشوه چې تخریبی عناصر نوی له کمین څخه دجګړې ډګر ته شول.

اوس هم دمخدره موادو پرخلاف د مبارزې لپاره دمیلیونونو ډالرو دتخصیص اوځانګړو ځواکونو دجوړولو هلې ځلې روانې دی ویلای شو چې دکوکنارو دکښت دمخنیوی په خاطر دهر هکتار ځمکې لپاره ۱۹ زره ډالره په دې خاطر په پام کې نیول شوی چې په دې ډول به دمخدره موادو دمخنیوی په برخه کې ستر بریالیتوبونه ترلاسه شی.

دولسمشر دفرمان له صادریدو څخه وروسته ثابته شوه چې نومورې فرمان دهیواد په ټولنه ولایاتو کې په یو ډول څکه تطبیق نشو چې دهیواد په ځینو سرحدي ولایاتو کې د طالبانو او سیمه ییزو قوماندانانو په زور او هڅولو سره تر پخوا زیات کوکنار وکرل شول.

دولت په هیواد کې دسراسری امن اوامنیت دراوستلو په برخه کې دخپلې کمزورې له املې تر اوسه پورې ونشوای کړای چې په هیواد کې دبیکارۍ ستونزې پای ته ورسوی او دخلکو دغه پراخه فزیکی زور دکوکنارو له مخنیوی وروسته په کارونو باندې په بوختیا سره دخپل ځان ترڅنګ ودروی دکوکنارو په مخنیوی سره یې په یو لاس دطالبانو او سیمه ییزو قوماندانانو شمیر ورزیات کړ.

دهیواد په اوسنیو شرایطو کې داسې بیکاری چې دولت به دمخدره موادو دمخنیوی په برخه کې په هر ډول پوځی زور سره دخلکو قهر لازیات دځان په وړاندې رامنځته کړی او په ځای به یې نه یوازې دا چې دمخدره موادو په مخنیوی کې بری ترلاسه کړی بلکې په هیواد کې به دې سراسری ناامنی په برخه کې لاړې چارې رامنځته کړی. اودطالبانو قوت به لازیات کړی چې مهارول به یې دګرنیو او باندنیو ځواکونو لپاره له ستونزو ډک کار وی.

ملیشه های قومی نمایانگر ناتوانی دولت میباشد

شماری از کارشناسان مسلح ساختن ملیشه ها ویا دسته های قومی را تهدید جدی برای آینده حکومت میدانند. کارشناسان بدین باور هستند که اجازه دادن به فعالیت ملیشه های قومی نمایانگر ناتوانی دولت در تامین امنیت کشور است. مسلح ساختن ملیشه ها ویا دسته های قومی از بحث برانگیز ترین موضوعات است که مورد انتقاد شماری از کارشناسان قرار گرفته است. کارشناسان معتقد هستند که اگر اجازه فعالیت به ملیشه های قومی داده شود در آینده حکومت مجبور خواهد بود تا به خواست های سیاسی آنان نیز جواب مثبت بگوید ومقامات ولایت مربوط بر اساس تقاضای آنان انتخاب شوند. این کارشناسان با اشاره به تجارب گذشته میگویند که این اقدام یکبار دیگر سبب جنگ ودرگیری های قومی خواهد شد ص۴

ائتلافي ځواکونه: ۲۶ طالب جنګیالي یې وژلي

د ائتلافي ځواکونو ویاند میجر اینیس ویلي چې دوی په هلمند کې ۲۶ طالب جنګیالي وژلي نومورې دا هم ویلي امریکایي سرتیري دطالبانو له لورې په تنګ شول چې بیا یې مرسته له بریتانیوي سرتیرو وغوښته چې دمرستې لپاره ۱۰۰ بریتانیوي سرتیري ورورسیدل.

پداسې حال کې چې پرون د ائتلافي ځواکونو ویاند میجر توماس په خبري ناسته کې د وروستۍ عملیاتو دلړۍ د پیل خبره وکړه چې شاوخوا یولس زره ائتلافي او افغان سرتیري پکې برخه لري او دا عملیات په ځلورو ولایتونو هلمند کندهار ارزګان او زابل کې ترسره کیږي.

د تورخم ـ جلال اباد په لویه لاره غبرګ سرک غواړو

انورالحق احدی:

د پاکستان او افغانستان د مرستې غونډې د اقتصادی کمیسیون دوه ورځنی غونډه اسلام آباد کې په داسې حال کې پیل شوې ده چې د افغان پلاوي مشر ډاکټر انورالحق احدي د تورخم ـ جلال آباد ترمینځ د یو نوي متوازي سړک د جوړولو لپاره له پاکستان څخه د مالي مرستې غوښتنه وکړه.

د جون په ۱۴ نېټه پیل شوې غونډې ته د مالیې وزیر ډاکټر انورالحق احدي په خپله وینا کې وویل چې د تورخم ـ جلال آباد ترمینځ په لوی سړک د ګاډو ټګ راتګ ډیر زیات شوی دی نو ځکه افغانستان غبرګ سرکونه غواړي. ۴مخ

ایورش کوهستان در جنوب کشور آغاز می شود

نظامیان امریکایی در کشور می گویند به زودی عملیات بزرگی را در مناطق جنوبی این کشور آغاز خواهند کرد که هدف آن سرکوب بقایای گروه طالبان و تحکیم حاکمیت دولت مرکزی در این مناطق است ص۴

دولت : د ګوانتانامو زندانیان کور ته راولو

د ګوانتانامو له زندانه به افغان بندیان خوشې شي. دا خبره پرون هغه پلاوي ژورنالیستانو ته وکړه چې په همدې موخه یې د هغه زندان بیلابیلې برخې لیدلې وې. راستانه شوي افغان پلاوي وویل په دغه زندان کې ټول ۹۲ افغانان ساتل شوي چې ځینې یې د طالبانو پخواني لوړپوړي چارواکي دي په دغو کسانو کې دوه تنه داسې هم شته چې تر طالبانو وړاندې د مجاهدینو حکومت افغان تابعیت ورکړی و ۴مخ

سید جلال سیدی: ددایاك بهیر په چټکی روان دی

دنامسوولو ګروپونو دبې وسلې کولو یا ددایاك پروګرام چارواکی وایی: په لویدیځو ولایتونو کې یې څه باندې ۴۰۰۰ وسلې او ۳۰۰ ټنه ناځاودلی توکي ټول کړی دی. په لویدیځ زون کې ددایاك د پروګرام مشر جنرال سید جلال سیدی وایی ددایاك دبهیر دپیل راهیسې تر اوسه په لویدیزو ځلورو ولایتونو غور، فراه، بادغیس او هرات کې ۴۰۵۰ میله سپکې او درنې وسلې او نږدې ۳۰۰۰ ټنه ناچاودلی توکي ترلاسه او ډیپوګانو ته سپارل شوی دی. ۴مخ

یو مړ او څلور ټپیان

دکابل - غزنی په لویه لاره پر یوه تانکر موټر وسله وال برید شوی چې له املې یې موټر چلوونکی وژل شوی او دهغه ملګری ټپی شوی دی.

له برید وروسته موټر له لاړې وتلی او له بل موټر سره ټکر شوی چې له املې یې څلور نور کسان ټپیان شوی دی.

برید دمیدان ښار په سالارسیمه کې شوې چې چارواکی وایی موټر له غزنی ولایت څخه دکابل په لوري روان و. چارواکودبرید پړه ددولت پرمخالفینو اچولې وایی چې ښایي برید کوونکو په تیر وتنه دغه شخصی موټر په نښه کړی وی.

فرو ریختن سقف ساختمانی شش کشته بجا گذاشت

فرو ریختن سقف یک ساختمان در ولایت نورستان شش کشته وسه زخمی برجای گذاشت. دفتر سخنگوی وزارت داخله با تائید این خبر میگوید درین رویداد که درولسوالی برگ متال نورستان رخ داد ۶ تن از اعضای یک خانواده کشته شدند وسه مرد دیگر شدیداً زخم برداشتند. دفتر رسانه های سخنگوی وزارت امور داخله با تائید این خبر گفته است که این رویداد عامل دیگری نداشته است وتنها چیزی که باعث این رویداد شده است کهنگی ساختمان بوده. وی شمار کشته شدگان را ۶ تن اعلان کرد. در این رویداد سه تن دیگر نیز شدیداً زخم برداشتند. گفته شده است تمامی قربانیان این رویداد زنان بوده اند. زخمی شدگان این رویداد جهت تداوی به شفاخانه محل انتقال یافته، اما وضع یک تن دیگر وخیم تلقی گزارش شده است.

یک نظربند ایرانی به کشورش انتقال شد

یک نظر بند ایرانی که قبلاً در نظارتخانه ایالات متحده امریکا در میدان هوایی بگرام تحت نظارت قرار داشت دیروز تحت سر پرستی کمیته بین المللی صلیب سرخ آی. سی. آر. سی به تهران انتقال گردید.

نظربند مذکور دیروز صبح وقت از نظارتخانه بگرام آزاد گردیده بود. این چهارمین انتقال نظر بندان ایرانی توسط آی سی آرسی از بگرام میباشد. ص۴

د ښوونکو دبی کوری ستونزی د نمرو په ورکړه حلیدای شی؟

قاضی

خومره چی په یوه هیواد کی تعلیمی مرکزونه د دولت پاملرنه زیاته وی او دخپلو تعلیمی مرکزونو د هرارخیزی پرمختیا او پراختیا په برخه کی پوره سنجول شوی پروګرامونه او اصول رامنځته کیږی په هماغه اندازه دنړی له تعلیمی مرکزونو سره سیالی کولای شي او دخپلی ټولنی دراتلونکو ماهرو کادرونو دروزلو په برخه کی کارنده اوګټوره برخه پوره کولای شي.

خو زمونږ په هیواد کی چی خومره پرتی نیمګړتیاوی او ستونزی د ژوند په هره ساحه کی موجود دی او بیا په تیره دښوونی او روزنی په برخه کی دا ټولی په تیرو جګړو باندی وراچوو خو دیته هم نه ګورو چی دا دی په هیواد کی دموقتی اداری له پیل څخه تر اوسه پوری څلورنیم کاله تیر شول او پر له پسی اداری رامنځته شوی دی.

خو زمونږ د ژوندانه په سوکالی کی لازم بدلون نه رامنځته شوی نه دی کلونه وشول چی په تعلیمی مرکزونو کی دښوونکو لپاره د کورونو او معاشونو دزیاتوالی ژمنی او غوښتنی لدی امله رامنځته شوی دی چی ښوونکی له وخت څخه وروسته له فزیکی کارونو او ستړیاوو خلاص شی او دټولنی لپاره نوی نسل وروزی خو تر اوسه پوری دغه ژمنی بشپړی نشوی.

دښوونکو لپاره د کورونو په خاطر نمری په پام کی ونیول شوی او هغه هم په داسی لوړه بیه چی ترهغو په نړۍ سمیو کی په هماغو پیسو څو نمری غیر نقشی یی ځمکی کیدای شی اوله بله پلوه له باصلاحیته ادارو سره چی په اړونده موضوع کی دنده لری دا فکر نشی رامنځته ترڅایه څومره کرایه ورکوی؟ څرګنده خبره ده چی ټول معاش به په کرایو کی لاړشی.

او بله دا چی یو ښوونکی کولای شی چی په تش لاس په سپینه نمره کی یو ساده دختو کور جوړ کړی چی هیڅکله یی نشی کولای.

که چیری دولت او په ځانګړی توګه دښوونی او روزنی وزارت غواړی چی ښوونکی دکورونو ځښتنان کړی او په ریښتنی توګه دښوونی او روزنی په برخه کی دستونزو دحل خواته ګامونه



کیدای شی چی ایادیوه ښوونکی له اوسنی معاش څخه به څومره پیسی زیاتی شی چی هغه پری نمره واخیستلای شی او ایا په کابل کی د چهل دختران له ساحی څخه به دخپلی وظیفی واخلی لازمه داده چی دښوونکو لپاره دجوړشوو کورونه په برخه کی په قسط دورکولو په برخه کی پام واړوی دقسط په ډول دجوړو کورونو ورکول کولای شی له یوی خوا ښوونکی له زیات اوسمدستی ګرانی او دروند بار له لیرې کولو خلاص شی او له بلی خوا دوخت دضایع کیدو مخنیوی کیدای شی.

دا څه نوی خبره نه ده دنړی په نورو هیوادونو کی هم دا معمول شته دولت کولای شی پانګوال دښوونکو دکورونو په برخه کی دپانګی داچولو لپاره وهڅوی ښار ګوتی جوړ شی او دخصوصی سکتورونو په ډلبندی کی دښوونکو په خدمت کی شی ښوونکی دخپلو اوسنیو ستونزو په شته والی سره هیڅکه نشی کولای چی یا په نقدو پیسو نمری تراسه کړی او یا خو یی دمقرری له مخی په تاکلی موده کی جوړې کړای شی او نه خو په زراوو ډالر په نقده توګه دجوړوشوو کورونو دقیمت لپاره ورکولای شی که چیری دښوونکو داستونزی حل نشی نو مونږ ویلای شو چی ښوونکی به دتل لپاره دیوی مړی ډوډی اوسرپناه په برخه کی سرګردانه اوسی او ناوړه اغیزی به یی زمونږ په ښوونیز سیستم کی د اوس په څیر لازیاتی راښکاره شی.

کله به زمونږ اقتصاد پر پښو ودریږي؟

عبداللطیف منت بار

یو پیاوړی او پرخپلو پښو دریدلی اقتصاد ژوند پر پښو دروی که چیری اقتصاداوبلن وی نو ژوند هم ورسره کمزوری کیږی او که اقتصاد پیاوړی وی نو ژوند هم ورسره پرپښو دریدلی شی.

د «بابای ملت» او شهید سردارمحمد داود دزعامت په وخت کی د ورځنی پلان دښی ودی له پاره پنځه کلن او اوه کلن پلانونه جوړ شوی وو چی په دغه تاکلی موده کی باید هره دنده په خپل وخت او زمان سره سرته رسیدلی وی. خو دکمونستی چارواکی نه راواخله دمجاهدینو او طالبانو تر وخت پوری دغه راز اقتصادی پلانونه په اوبو لاهوشول او دکرزی ترموقتی او انتقالی دوری پوری دپلان ټوم وانه وریدل شو او همدغه وجه وه چی هیواد هماغسی وران اوویجاړ او خلك یی هم بی روزګاره پاتی شول که څوك و وایی چی په هیواد کی کارنشته نو رادشی چی زه یی وروښیم هغه دا چی ددغو دنګو دنګو غرونو خیټی له نفتی موادو غازاتو، طلا، نقرې اوقیمتی ډبرو څخه ډکی دی کارپیکار هلو ځلو او زړه سوی ته لاری څاری چی د دولت مسوولین ورته باید پام راواړوی.

که مو دیوی بېړی د څلورمی برخی نه زیاته موده دجنګونو په بټ کی تیره کړی ده که مو دنورو په مالونو باندی دغنیمت په نوم خیټی ډکی کړی دی! که پردی کورونه او ځمکی مو دټوپك په زور لاندی کړی دی! که مو په خپل واحد کور(هیواد) کی کورګی جوړ کړی دی. که د ټوپك په قانون باندی مود خلکو په مریو پښی ایښی دی که مو په زور باندی په دغه بیوزلو خلکو باندی حکومت کړی دی. خو دغو ټولو بدمرغیو هغه وخت له هیواد نه کډې کولو تابیاوکړه چی دبن دکنفرانس له مخی افغانان دقانونی دولت څښتنان شول، اساسی قانون تسوید، تصویب او نافذ شو د دولت په هلو ځلو پیل وکړ، انتخابات سرته ورسیدل یو ځل بیا په هیواد کی قضائیه، مقننه او اجرائیه قوه پر پښو ودریده او دهیواد دبیا ابادی له پاره د نړیوالو ټولنو مرستی رازیاتی شوی او د امنیت د استقرار له پاره دایساف او ناتو قوتونو د هیواد په پلازمینی کابل کی خپل قوتونه ځای پرځای کړل. نو اوس خو په کارداده چی دچارواکو زیاته پاملرنه دهیواد بیارغاونی ته راواړول شی دکانی موادو په راسپرلو لاس پوری شی. دبریښنا د انرژی د زیات تولید له باره هلی ځلی وشی، اقتصادی فابریکی په کار واچول شی دوطنوالو روغتیایی چارو دسنبالولو له پاره متی راونغښتل شی. د افغانستان بی اوبو ځمکو ته ویالی وغزیږی د کروندګرو سره دمیکانیزه کرنی په برخه کی زیاته مرسته وشی، اصلاح شوی تخمونه د دوی په واك کی ورکړ شی ترڅو دوی وکولای شی چی له خپلو ځمکو نه زیاتو دانو دتر لاسه کولو له پارې هلی ځلی وکړی او دخپلو وطنوالو ورځنیو اړتیاوته دهیواد په دننه کی خوابونه ووایی.

که چیری دپورتنیو وړاندیزونو سره سم په زړه سوی او مسوولیت باندی کارکیږی نو لیری به نه وی چی په خپلو وطنی تولیداتو او پیداوارو باندی مو داقتصاد کچه لوړه شی او دبهرنیو هیوادونو دمرستونه بی نیازه پاتی وو دا دهمدغه وخت ضرورت دی چی خپلی متی په کار واچوو او په خپلو متو باندی دخپل هیواد د اقتصاد څرخونه په حرکت راولو او په دی توګه خپل غریب اوبیوزلی هیواد دترقی او پرمختیا په لاره وروسیخوو دا څکه چی په بی ځایه ناسته کی هیڅ ډول ګټی نه شو ترلاسه کولای او که چیری دی کارته دوام ورکوو نو له نورو نه به مو دتمی لاسونه نه وی رالنډ شوی او مدام پاره به دنورو پوروړی پاتی یو.

فرهنګ های شرقی وصلح

رحمت الله رسا

فرهنګ همه دستاورد های مادی ومعنوی یک جامعه است. همه علوم، دانش ها، هنرها، ادبیات همه وهمه شامل فرهنګ می شوند، فرهنګ شناسنامه جامعه است. یکی از اجزای مهم فرهنګ ادبیات است. ادبیات وفرهنګ وهنر هویت جامعه است. شخصیت هر جامعه را فرهنګ آن وادبیات آن میسازد. شعر ونثر وداستان وغیره اشکال ادبی شامل ادبیات میشوند. به طور مثال شعر رحمن بابا، شعر خوشحال خان ختک، شعر امیر علیشیر نوایی وشعر حیکم ناصر خسرو بلخی ودیگران در شعر حکمت ها وهنرها وزیبائی ها یی زیادی نهفته است از جمله در شعر رحمن بابا شاعر آزاد ونام آور زبان وادب پشتو، که از لحاظ شکلی، وزن، قافیه، تشبه، استعاره خیلی زیبا بوده واز لحاظ ماهیت ومحتوا وفلسفه دارای پیام نهایت عالی برای بشریت ومسلمانان وانسانها میباشد.

در فلسفه وماهیت شعر رحمن بابا که یک عارف دلسوخته وعاشق به معنویت و انسانیت است، زیبائی های ملی واسلامی وعرفانی نهفته است.

در عرفان رحمن بابا از عشق ها ومحبت های بزرگ الهی (عشق به خدا ج) ومحبت به انسان دوستی وبشر دوستی آمده است.

رحمن بابا در کل اشعار عرفانی خود بارها بارها از ((عشق)) یاد کرده است. منظور شاعر بزرگ وعارف وارسته زبان وادب پشتوی ما این است تا ((عشق)) را به مردم وخواننده آشنا سازد. زیرا از دید فکری، فلسفی وعرفانی شاعر آزاده عشق نکته مرکزی افکار عرفانی اوست، فقط با عشق میتوان در فضای نزدیک محبت محبوب قرار گرفت. این عشق که رحمن بابا میگوید عشقی است که به زبان، کلمات وادبیات ظاهری بیان نمیشود یا قابل بیان شدن نیست. فقط با احساس، عاطفه ومحبت قلبی وباطنی ودرونی است که میتوان به این زمینه رسید ورسیدن به هدف که در حوزه محبت عشق دوست قرار گرفتن است با عشق است.

فرهنګ شرقی بیانګر خاطرات وآرزو ها وامیدهای درونی وقلبی انسانهای شرقی است، تاجائیکه روان شناسان وانسان شناسان روی انسانهای شرقی کار کرده مردمان شرقی مردمان درون ګرا، خون ګرم، با محبت، وفرهنګ دوست وشعر دوست وقصه دوست اند.

طبیعی است که این خاطرات، افکار، آرزو ها وامیدهای مردمان هم در ادبیات مخصوصاً در شعرشان بازتاب یافته است.

فلاسفه و دانشمندان گفته اند که مردمان شرقی اضافه تر عاشقانه فکر می کنند تا عاقلانه در حالیکه مردمان غرب(اروپا، امریکا) عاقلانه فکر می کنند. در فکر عاقلانه زنده گی مادی، اقتصادی، توسعه، پیشرفت ظاهری اجتماعی مطرح است. ولی در عشق معنویت ومحبت ها ونیکی ها وایثار ها ودرکل مطالب عارفانه ودینی وفرهنګی وفلسفی مطرح است.

البته این بررسی فقط با احساس، حکم کلی ندارد در شرق هم عاشقانه وعاقلانه فکر شده وفکر میکنند ولی جنبه عاشقانه قوی تر است. البته این نظر تعدادی از دانشمندان وانسانشناسان است.

در ادبیات وفرهنګ شرق اشکال مختلف ادبی، غزل، مثنوی های عارفانه وغیره آمده که اضافه تر پدیده ((صلح)) وآشتی در فرهنګ عرفانی شرق زمین دیده شده است. پس یکی از صلح خواهان شاعر آزاده ما رحمن بابا شاعر عارف نامدار زبان وفرهنګ پشتوی ما است.

متصدی: سباوون

د بیا رغاونی په لور

چالش عمده برای اداره مالی دولت

با وجود پیشرفت های اخیر، سیستم اداره مالي دولت به چالش های بزرگی روبرو است که ذیلاً طور خلص بیان میگردد.

پیشرفت به سوی ثبات مالی: بودجه سالانه افغانستان اوری طرح گردیده، وحکومت یک پالیسی قوی را برای جلوگیری از قرضه گیری در پیش دارد (در عوض قبل ازهمه بالای مساعدت خارجی اتکاء داشته وتا حدود کمتری بر افزایش عواید داخلی جهت پرداخت مصارف اش متکی است.) باوجود این همه، پیشرفت به سوی ثبات مالی در متوسط المدت یک چالش بزرگ خواهد بود (ثبات مالی طوریکه درین گزارش بصورت خلاصه تعریف میگردد عبارت از رسیدن به یک موقف مالی میباشد که در آن عواید داخلی به اندازه ای باشد که بتواند مصارف مستمر مجموعی را تکافو نماید) در حال حاضر، عواید داخلی کمتر از نصف مجموع مصارف مستمر بودجه اطمینان ازینکه قرضه وی را تحت پوشش قرار میدهد، ومبالغ بزرگ مصارف مستمر بصورت مکمل در بودجه اصلی انکشافی و بودجه خارجی که هر دو از خارج تمویل میگردند شامل میگردد (احتمالاً ۳ الی ۴ برابر بودجه عادی) عدم نگهداشت مصارف دولتی در حدود قابل پرداخت آن اثرات ناگوار رادرپی خواهد داشت. جریان سریع مساعدت ها، در عدم موجودیت ظرفیت وعواید ناکافی داخلی در صورت عدم تنظیم وکنترول مناسب آن، میتواند منتج به وقوع مصارف غیر قابل تحمل گردد. در حالیکه حمایت بین المللی به افغانستان فرصت آنرا میدهد تا محدودیت بودجه ملی را طور موقت رفع نماید، به یک چارچوب ایدال متوسط المدت نیز ضرورت است (یعنی چارچوب مالی برای متوسط مدت یا MTFF) تا یقین حاصل گردد که کشور به سوی وضعیت مالی باثبات در حرکت است.

افغانستان با منظوری اولین چارچوب مالی برای متوسط مدت درماه اکتوبر ۲۰۰۵ اولین گام ها را درین راستا برداشته است. پیشرفت به سوی ثبات مالی نیازمند بر آورده شدن نکات آتی خواهد بود. (۱) رشد سریع ومتداوم عواید داخلی. (۲) شمولیت مصارف مجموعی موازی با محدودیت های متوسط المدت در کسب منابع. (۳) حصول اطمینان ازینکه قرضه گیری برای مصارف جاری که در نتیجه سرمایه گذاری عامه وسایر فیصله ها برای مصارف عاید می گردند، دوباره قابل پرداخت اند (۴) مصارف مستمر که مستقیماً توسط تمویل کننده گان دربودجه خارجی تمویل میگردد (خصوصاً در بخش امنیتی) در مساوات ثبات مالی داخل وتدریجاً در بودجه ملی شامل گردند.

انسجام عواید داخلی: رشد سریع ومتداوم عواید داخلی منحیث یک لنگر برای پیشرفت به سوی ثبات مالی تلقی میگردد عواید افغانستان قریب ۵ فیصد عواید ناخالص راتشکیل میدهد که این رقم پائین تر از نصف آن در سایر کشور های فقیر میباشد. برای افزایش عواید جهت همسری آن با مصارف مستمر برای یک دهه ویا موازی با اهداف دولت، عواید باید به سرعت بیشتر نظر به مصارف بصورت متداوم رشد نماید احتمالاً حد اقل دو برابر سریع تر در عین زمان یک سیستم مناسب عواید برای رشد سکتور خصوصی نیز مفید خواهد بود. چالش های عمده برای افزایش عواید مشتمل اند بر: (۱) عدم ظرفیت در سیستم تنظیم واداره مالیات به همین ترتیب در میان مالیه دهندگان برای محاسبه وپرداخت مالیه. (۲) موجودیت مالیات متعدد، با عواید پائین (مالیات مزاحمت انگیز) جمع آوری غیر مجاز عواید توسط مقامات محلی، و وضع مالیه مضاعف (هم توسط شاروالی وهم توسط سیستم مالیه دهی ملی) و ابهامات در قوانین مالیه دهی. (۳) تسلط زراعت وسکتور غیر رسمی در اقتصاد کشور که وضع مالیه برین بخش در هر کشور مشکل خواهد بود (۴) فساد اداری گسترده در اداره مالیه دهی. حکومت در اصلاح سیستم تعرفه گمرکی و بهبود سیستم مالیات بر عواید پیشرفت هایی را بدست آورده است. رشد بعدی این عرصه مربوط به تمرکز تلاشها بالای مالیات دهندگان بزرگ ومنابع دارای عواید بلند استوار خواهد بود که موارد ذیل را شامل میگردد: از بین بردن (مالیات مزاحمت انگیز) وپیگیري وضع مالیه غیر قانونی همچنان دادن وضاحت به قانون مالیات؛ رشد ظرفیت ها برای ایجاد کادر مسلکی برای اداره مالیات بااکمال نیازمندی های فزیکی، تکنالوژی معلوماتی یا IT ودارایی های تجارتی. به افزایش جمع آوری و انسجام عواید داخلی باید اولویت بیشتر داده شود: این مسئله باعث کاهش وابستگی به کمک خارجی شده، فضای مالی برای پیشرفت را ایجاد نموده وتعهدات قوی حکومت را برای رشد به سوی ثبات مالی تامین مینماید. تطبیق مکمل پالیسی جاری و پلان های اصلاحات اداری میتواندسطح عواید را الی سال ۲۰۱۰ از ۵ فیصد عواید ناخالص داخلی به ۸ فیصد برساند. تطبیق اصلاحات اداری با شدت بیشتر، رسیدگی سریع به ولایات وسایر تدابیر جمع آوری عواید باعث افزایش این فیصدی به ۱۰ الی ۱۱ فیصد در ۲۰۱۰ خواهد شد.

بیا جوړول ډیر ضروري دي او که سراسري امن؟



له هغه وخت څخه چې په هیواد کې دطالبانو واکمنی پای ته رسیدلی په هیواد کې دوو شعارونو زیاته نمایشی دود پیداکړی چې یو په هیواد کې دجوړولو او بیا جوړولو برخه او بله دالقاعده او تروریستی تخریبی عناصرو پر خلاف مبارزه او په هیواد کې دسراسری سولې او امنیت رامنځته کول.

دجوړولو او بیا جوړولو کارونه خو اکثره دهغو انجوګانو پواسطه سرته رسیدلی چې اکثره یې له جوړولو څخه وروسته په ډیره کمه موده کې بیرته خراب شوی او په کیفی لحاظ یې ارزښت څکه کم راغلی دی چې زیات جیبونه په کې شریک شوی دی ددولت اړوندو ادارو خو تل دخپلو اقتصادی ستونزو دشته والی د شکایت له مخې په دې برخه کې دجوړو ودانیو له رنګولو او ترمیم څخه پرته او هم دګوتو په شمیر څه نه دی کړی.

که څه هم دولت دپانګوالو لپاره دپانګو داچولو په برخه کې د شرایطو دبرابرولو لپاره تېر وهلی دی کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته یې له ۶۰۰ څخه زیات جوازونه هم ورکړی چې خپلې پانګې د هیواد په دننه کې په کار واچوی خو په دې ډول دخصوصی سکتور دپیاوړتیا او پراختیا له لارې وکړای شي په هیواد کې له یوې خوا تولید زیات او له بهرنیو وارداتو خلاص شو اوله بلې خوا زمونږ خپل افغانان په خپل هیواد کې په کاروبار باندې بوخت شي. خو سره له دې د څلورنیمو کلونو په اوږدو کې لاتراوسه پورې دهیواد په شاروالیو کې په کلیو او باندو کې هیوادوال دکار او روزګار دپیدا کولو لپاره وزګار ګرزی او تر ۵۰ زرو زیات بهرنیان دلته زمونږ په هیواد کې په کار بوخت دی. افغانان هم دهیواد په دننه او هم په بهر کې شته چې زیاته پانګه لري او کولای شي د هیواد په دننه کې تولیدی فابریکې جوړې کړی خو تراوسه پورې چې په هیواد کې دخپلو پانګو د اچولو لپاره نه حاضریږي.

یوازنی علت یې په هیواد کې دامنیت د نشتوای مسئله ده پانګوال دخپلو پانګو دساتلو په باره کې تضمین نه وینې څکه مورږ او هغوی ولیدل چې دلته د سوداګرو بچیان وتښتول شول دپیسو غوښتنې تر وشوې او بچیان یې ورته ووژل دجوزا په اتمه نیټه هیوادوالو دتلویزیون له لارې ولیدل چې د کورنیو چارو دوزارت ترځنګ هم مخربو عناصرو له مظاهرو څخه په استفاده اورونه واچول اویو هیوادوال چې تر لس میلیونو ډالرو یې زیاته پانګه اچولی وه دسترګو په رپ کې یې ولیدل چې خپله پانګه په ایرو بدله شوه.

داسې ډیرې بیلګې دهیواد په بیلابیلو سیمو کې لرو چې په اګاهانه ډول پانګوال له پانګو خلاص شوی دی اوس ستونزه داده چې له یوې خوا په هیواد کې لوړه او بیکاری زیاته ده دولت د خپل ادارو کار کوونکی کموی خصوصی تولیدی سکتورونه په خپلو پښو دامنیت دنشتوالی له امله ودریدلی نشي له بلې خوا له بهر څخه جبراً دافغان کډوالو دراتګ بهیر را روان دی دنوو راتلونکو هیوادوالو لپاره دکور او کار دپیدا کولو په باره کې اړوندو ادارو خپل مسوولیت سرته نه دی رسولی که چیرې په هیواد کې په نسبی توګه یو څه دجوړولو کارونه شوی دی اویا روان دی هغه هم د ورځې په ورځ خرابیدونکی امنیت له امله بیرته د مخربو عناصرو په لاس په کندوالو بدلیږي او ساتونکی یې وژل کیږي.

که چیرې دولت په هیواد کې دسراسری امن او امنیت درامنځته کولو په برخه کې تربیا جوړولو دمخه زیات کارونه کړی چې څومره د بیا جوړولو کارونه شوی اویا کیږي هغه به ټول بیرته په کندوالو بدل شي او لا به په زرونو هیوادوال دبیکاری له ستونزو سره مخامخ شي لکه چې همدا اوس هم مخامخ شوی دی.

د ګوانتانامو زندانیان ...

دا لومړی ځل دی چې ګوانتانامو ته د افغانستان یو پلاوی ورځي او هلته له افغاني زندانیانو سره ویني. په دغه پلاوي کې د افغانستان د دفاع، کورنیو چارو، عدلیې وزارت، د ستري محکمې، لوېې څارنوالۍ او د دغه هیواد د امنیت شورا غړو ګډون درلود. د ګوانتانامو زندان ته ورغلي پلاوي ژورنالیستانو ته وویل چې هغوی د خپل سفر په ترڅ کې لومړی د افغان بندیانو هویت تثبیت کړ، وروسته یې په هغې لوزنامې له امریکایي چارواکو سره خبرې وکړې چې څنګه او په څه ډول دغه بندیان خپل هیواد ته راستانه کړي. د دغه پلاوي په وینا هغوی د ګوانتانامو زندان کې له ټولو افغان بندیانو سره ولیدل. په دغه زندان کې ټول ۹۲ افغانان ساتل شوي چې څینې یې د طالبانو پخواني لوړ پوړي چارواکي دي. په دغو کسانو کې دوه تنه داسې هم شته چې تر طالبانو وړاندې د مجاهدینو حکومت افغان تابعیت ورکړی و. ښاغلي ثابت ووېل د طالبانو د کورنیو چارو او د عدلیې وزیران، د بلخ والي او د دوی یو شمیر مشهور قومندانان په ګوانتانامو کې وو. له پلاوي سره د افغان زندانیانو د لیدو پر وخت د ګوانتانامو امریکایي ساتونکي نه وو. د افغان پلاوي مشر وویل دغه زندانیان به جوړه جوړه خپل هیواد ته راستنیږي. د ګوانتانامو په زندان کې تر پنځو سوو ډیر هغه کسان ساتل شوي چې د ترهګرۍ په تور تورن دي. په دوی کې تر ټولو ډیر د افغانستان اوسیدونکي دي چې د طالبانو د رژیم له نسکوریدو وروسته په افغانستان کې نیول شوي دي. تیر کال متحدو ایالاتو له افغان دولت سره منلې وه چې له ګوانتانامو څخه به افغان زندانیان خپل هیواد ته په دې شرط ستنوي چې دلته ورته خوندي زندانونه جوړ شي دغه شرایط لا تر اوسه د عدلیې د وزارت په وینا چمتو شوي نه دي. خو دغه وزارت د زندانونو مشر هیله څرګنده کړه چې په دې اړه کار روان دی او له څو میاشتو وروسته به هغوی وتوانیږي د بندیانو لپاره نوري اسانتیاوې هم برابرې کړي.

د دایاک بهیر ...

دنومورې چارواکي په وینا دغه بهیر په چټکتیا سره پرمخ وران دي. او یو شمیر هغو قوماندانانو چې دوی ته یې دوسلو دسپارلو لپاره مکتوب او یوه میاشت وخت ورکړل شوی و د وسلو سپارلو ته چمتووالی ښودلی او خو تنو خپلې وسلې هم سپارلې دي.

نومورې چارواکو په هرات کې له دغه بهیر سره ددولتي او په ټیره امنیتي چارواکو د همکارۍ مننه وکړه.

یورش کوهستان در جنوب ...

تام کالینس، سخنگوی نیروهای ائتلاف تحت فرمان آمریکا در یک کنفرانس خبری در کابل، از این عملیات به نام "یورش کوهستان" نام برد و گفت که این عملیات در ولایات ارزگان، زابل، هلمند و قندهار اجرا خواهد شد. آقای کالینس گفت همزمان با آغاز این عملیات، مسئاله بازسازی این ولایات نیز در دستور کار نیروهای ائتلاف قرار خواهد داشت. سخنگوی نیروهای ائتلاف تحت فرمان آمریکا در مورد تاریخ آغاز این عملیات جزییاتی ارایه نکرد. در این عملیات سربازان کانادا، بریتانیا و افغان شرکت خواهند کرد. این بزرگترین عملیات مشترک نیروهای آمریکایی و افغان در جنوب این کشور پس از فروپاشي رژیم طالبان خواهد بود. ولایات جنوبی کشور ظرف چهار سال گذشته، از تا آرام ترین مناطق در این کشور بوده که بر اساس گزارشها، تنها ظرف شش ماه اخیر، در نتیجه درگیری های جداگانه صدها نفر در این مناطق کشته شده اند. به نظر می رسد همین موضوع، از دلایل اصلی راه اندازی عملیات "یورش کوهستان" در جنوب کشور بوده است. برنامه ریزی برای آغاز بزرگترین عملیات نظامی در جنوب افغانستان در حالی صورت می گیرد که کارشناسان سیاسی و نظامی افغان همواره گفته اند بحران امنیتی در این کشور تنها با زور و استفاده از اسلحه حل نخواهد شد. دولت نیز از چندی پیش، با توجه به همین نظریه، تلاشهای سیاسی و دیپلماتیک را در راستای تامین امنیت در جنوب این کشور آغاز کرده است.

نامه وارده

معلمی که در صنف جان داد.

به اداره محترم روزنامه اراده! اولتر پیروزی تانرا در نشر مطالب که خواسته های ملت را بیان میکنند از خداوند متعال میخواهم امیدوارم که این نامه ما اهالی کاپیسا را به نشر برسانید که مورد توجه وزارت محترم معارف قرار گیرد.

سید محمد (شریفی) مربی پر آوازه کوهستان زمین مدت زیادی زندگی خوشرا وقف آموزش وپرورش کودکان وجوانان نموده وی در طی ۵۴ سال آمر مکتب در روستا های کوهستان زمین در قریه اشترگرام بود.

و به پاس خدمات خویش در مکاتب به دریافت القاب پر افتخار پدر معارف ولایت پروان، کاپیسا ومعلم شایسته کوهستان مفتخر گردید وبه حیث عضو وابسته فرهنگستان علوم پیداگوژیک شد.

وی در مدت ۲۰ سال اخیر حیات مشاهدات خویش را همواره یاداشت مینمود که این امر به وی امکان نگارش کتب ومقالات فراوانی را در زندگانی ادبی وفرهنگی داد.

شریفی همیشه بر ضد جهل وبیداد گری ومفاسد مبارزه ومقاومت میکرد ومردم را دعوت به شاهراه سعادت مینمود وبسیاری از هموطنان را از خواب غفت بیدار نموده است همواره کوشش میکرد عقاید پسندیده خود را در میان مردم نشر وهمیشه این محبت، عاطفه ومهربانی را تبلیغ میکرد. وی میگفت: یکدیگر را دوست بدارید بدی را بدی پاداش ندهید. بعد از سعی وتلاش خستگی ناپذیر وی استاد در قریه اشترگرام کوهستان بنیان مکتبی را ایجاد کرد بنام مکتب ذکور اشترگرام که از آن زمان شاگردانی متعددی را به جامعه تربیه نموده است. بالاخره این شخصیت علم پرور بعد از فراغت از تحصیل علوم دارلمعلیمن کابل بوظیفه استادی به مکتب ذکور اشترگرام گماشته شد که از آن آوان جوانی الی اخیر عمر خویش این مکتب ومکاتب دیگر، فروزان ساخته طلاب دوره ثانوی طبقه اناث را رشد داده که مکتب به لیسه ارتقا نمودسر پرستی مدیریت لیسه نسوان اشترگرام را به پیش برد که حتی وی تخته های صنوف را به دست خویش ساخت وشاگردان از آن استفاده نمود.

بنابر کار کردهای دوران وظیفه مذکور که ۵۴ سال در ۳۰ پست مختلف معارف وظیفه انجام داد وتا اخرین رمق زندگی در صنف پهلوی تخته ایستاده بودو درس میداد که داعی اجل را لبیک گفت از مقامات ذیصلاح ریاست محترم معارف کاپیسا و وزارت معارف تقاضا میداریم بخاطر زنده بودن نام این شخصیت معارف پرور یکی از مکاتب را بنام وی مسما نمایند.

تا از این راه به خدمت گزاری آن استاد محترم ارج گذاشته شود.

و خوانندگان و هموطن ما در هرگوشه وکناری باشند ازاین آموزگاران وطن در چنین مقطع زمانی معلوماتی مختصر در ذهن و روان خود داشته باشد و بخاطر عمران واحیای علم وفرهنگ خویش مجدانه بذل مساعی فرمایند تا این پیکر بی روح را طراوت وروح بخشند.

از طرف اهالی ولایت کاپیسا منطقه اشترگرام

ملیشه ها قومی ...

کریم رحیمی سخنگوی رئیس دولت دیروز در یک نشست خبری ساختار ملیشه ها را رد کرد واز این افراد به عنوان پولیس محلی نامبرد.

این که فرق میان ملیشه وپولیس محلی چیست؟ سوالی است که در نزد مردم تا هنوز بدون جواب باقی مانده است.

روز نامه چراغ به نقل از فرمانده پولیس ولایت فراه نوشته است که ۲۵۰ ملیشه مسلح درین ولایت تحت امر فرماندهی پولیس درآمده اند که با اسلحه خودشان درتامین امنیت با پولیس کمک خواهند کرد وحکومت به آنان هیچگونه سلاح نداده است.

شبه نظامیان محلی در شرق وجنوب در حالی رسمیت می یابند که مقامات دولت وسازمان ملل متحد بار ها وجود ده ها هزار مرد مسلح غیر مسوول را در افغانستان تهدید بزرگ در برابر ثبات وامنیت کشور خوانده اند.

یک نظربند ایرانی به ...

با نظربند رها شده دونماینده آی سی آر سی همراهی مینمود وتوسط یک پرواز مخصوص آی سی آر سی به کشور شان انتقال گردید.

آی سی آر سی به حیث یک میانجی بیطرف ودر مطابقت با قیمومت اش بالاثر تقاضای مقامات امریکایی، افغان وایرانی در انتقال نظربند رها شده کمک نموده است.

نماینده گان آی سی آر سی بعد از طی طرزالعمل معیاری اینچنین انتقالات قبل از انتقال با نظربند ملاقات نموده بود تا اطمینان آنرا بدست آورد که اومیخواهد به میل ورغبت خود به کشورش انتقال گردد.

آی سی آر سی بعد از جنوری سال ۲۰۰۲ از اشخاص نظربند در نظارتخانه ایالات متحده امریکا در بگرام بازدید به عمل می آورد. ازآن تاریخ به بعد آی سی آر سی بعد از رهایی در انتقال ۴۰۵ نفر نظربند که بیشتر آنها افغان بوده اند کمک نموده است. آی سی آر سی در سال ۲۰۰۶ به تعداد ۲۱۰۰ پیام صلیب سرخ بین اشخاص نظربند در بگرام وخانواده های شان را تبدله نموده است.

د تورخم - جلال اباد ...

له غونډې وروسته ډاکټر احدي بي بي سي ته وویل افغانستان غواړي چې د کابل او جلال آباد ترمینځ هم د یو بل سړک د جوړولو په اړه د پاکستان جاج واخلي چې آیا د داسې یو سړک ګنجایش شته او که څنګه د مالیې وزیر زیاته کړه چې د جلال آباد او سروبي نه به تر جبل سراج پورې هم د کاپیسا له لارې پوخ سړک جوړ شي. هغه وویل افغانستان غواړي چې پاکستان د اورګاډي کربنه د چمن نه سپین بولدک ته وغځوي چې افغاني مال له دې لارې افغانستان کې کښته شي. د یوې پوښتنې په جواب کې افغان وزیر وویل افغانستان غواړي چې پاکستان دې هندوستان ته د پاکستان له لارې خپل مالونه افغانستان ته د صادرولو اجازه ورکړي. ډاکټر احدي له پاکستان څخه غوښتنه وکړه چې د ترانزیټ سوداګرۍ په اړه دې د ۱۹۲۵ کال ترون په بشپړه توګه عملي کړي. هغه وویل چې د موافقې په اساس افغانستان کولی شي چې د کراچۍ او د پاکستان د نورو بندرونو د لارې مالونه افغانستان ته راوړي. ډاکټر احدي د کراچۍ په بندر د ویګنو د کموالي په اړه د افغان تاجرانو شکایتونو څخه غوندې خبره کړه او ویې ویل افغان تاجران نه شي کولی چې په چټکتیا سره خپل مالونه د کراچۍ بندر څخه پیښور او چمن ته یوسي. د پاکستان د لومړي وزیر د خزانې مشاور ډاکټر سلمان شاه، چې غونډه کې یې د پاکستان د پلاوي مشري په غاړه ده وویل چې د ترانزیټ تجارت او نورو مشکلاتو حل کولو لپاره یې امر کړی دی. هغه زیاته کړه چې د افغانستان او پاکستان ترمینځ تجارت یو کال کې یو اعشاریه دوه ملیارد ډالرو ته رسیدلی دی چې څلور کاله وړاندې دا فقط ۲۳ میلیونه ډالره و

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظر هیات تحریر انتشار میيابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی